دافغانستان اسلامی امارت | امارت اسلامی افغانستان
د لوړو زده کړو وزارت | وزارت تحصیلات عالی

غزني پوهنتون ریاست
د علمي چارو معاونیت
د تضمین کیفیت او بارو ورکوونې آمریت

# ۱۴۰۲ کال د لومړنۍ ربع گزارش

**ترسره شوي فعالیتونه**

**د غزني پوهنتون د تضمین کیفیت او باورکوونې کمیټي د روان کال ۱۴۰۲ په لومړنۍ ربع کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي**

- د تضمین کیفیت کمیټی په دې ربع کې ۲ جلسې دائیری کړي دي.
- د ۱۴۰۲ کال لپاره د عملیاتي پلان جوړ کړي.
- د تضمین کیفیت کمیټی غړي ښاغلي نقیب الله خانی خیل په وسېله د غزني ولایت په اطلاعات فرهنگ ریاست کې د فرهنگی میراثونو د ساتنې په برخه کې کنفرانس وړاندې شوې.
- د عملیاتي پلان د جوړونې په اړه په پوهنتون کې قدرمنو استادانو ته د آشنایي برنامه جوړه شوې ده.
- د پنځه گونو پوهنځیو اصلاحی ارزونه ترسره شوې ده.
- د ازموینو د بهیر د کیفیت د څارنې په موخه له ازموینو څخه نظارت ترسره شوې دي.
- د تضمین کیفیت کمیټی لپاره ستراتیژیک پلان جوړ شوي.

**لاسته راوړنې**

- د ۱۴۰۲ کال لپاره د عملیاتي پلان هغه برخي چې یوه ربع کې پیشبینی شوې تر سره شوې دي.
- د تضمین کیفیت کمیټی غړي ښاغلي نقیب الله خانی خیل په وسېله د غزني ولایت په اطلاعات فرهنگ ریاست کې د فرهنگی میراثونو د ساتنې په برخه کې کنفرانس وړاندې شوې، چې پدې سره د غزني ولایت خلکو ته عامه پوهاوي ورکړل شوې او عام خلک د فرهنگي میراثونو په اهمیت پوه شول.
- د عملیاتي پلان د جوړونې په اړه په پوهنتون کې قدرمنو استادانو ته د آشنایي برنامه جوړه شوې ده. تر ټول قدرمن استاد، مامورین او د پوهنتون ټول منصوبین په ښه ډول خپل عملیاتي پلانونه ترتیب کړي.
- د پنځه گونو پوهنځیو اصلاحی ارزونه ترسره شوې ده. د دې لپاره چې د دریم پړاو کې ارزیابی لپاره اماده شي.
- د ازموینو د بهیر د کیفیت د څارنې په موخه له ازموینو څخه نظارت ترسره شوې دي. د دې لپاره چې د ازموینو پروسه کې عدالت تامین شي او دا پروسه په پوره شفافیت سره ترسره شي.
- د تضمین کیفیت کمیټی لپاره ستراتیژیک پلان جوړ شوي. د دې لپاره چې د تضمین کیفیت آمریت ټول کارونه له پلان سره سم ترسره شي، د دې لپاره اړینه چې ۵ کلن ستراتیژیک پلان شتون ولري او هر فعالیت په ټاکل شوي کال کې ترسره شي.

**شته ستونزې**

دا چې د تضمین کیفیت پروسه په پوهنتونو کې یوه دوامداره او برخلیک ټاکونکي پروسه ده نو د دې لپاره چې هر پوهنتون اعتبار تر لاسه کړي او د یوه معتبر پوهنتون په صفت په هېواد کې فعالیت دې پروسې تکمیل ته جدی اړتیا لیدل کیږي. هغه ستونزې چې پدې پروسه کې شتون لري په لاندې ډول دي:

- د دې پروسې د تکمیل لپاره د ځانګړې بودجې نه شتون
- د ۱۱ گونو اصلي او ۴۹ فرعی معیارونو د تکمیل لپاره د امکاناتو کموالی لکه معیاری سرکونه، شنه ساحه، پارک، کلنیک، ورزشي میدان، کانټین، مجهز پارکنګ، د معیاري صنفونو نه شتون او داسې نور نه شتون.
- د دې پروسی د تکمیل لپاره د بیلابیلو پوهنځیو په ښه ډول نه همکاري.
- د پوهنځیو لپاره د مکتوبونو په ځواب کې خنډ او ځنډ.

**د حل لارې چارې**

د دې لپاره چې دا پروسه په پوره بریالیتوب سره ترسره شي، نو اړینه ده چې لاندې برخو ته پاملرنه وشي.

- د تضمین کیفیت لپاره د بودجې ځانګړې کول.
- پدې برخه کې استادانو، د ځانګو آمرینو، د پوهنځیو ریسانو او نورو اړوندو کسانو ته د آشنایي د برنامو جوړول.
- دد رئیس پوهنتون، معاونینو، استادانو، آمرینو او د پوهنځیو د ریسانو پوره همکاری او همغږي.

**پوهندوی حبیب الله "همایون "**

**د غزني پوهنتون تضمین کیفیت او باور ورکونې آمر**